# د بې کوره کسانو غوښتنلیک پروسه: ادینبرګ

## د غوښتنلیک جوړول

د بې کوره کسانو غوښتنلیک جوړول:

موږ پوهیږو چې دا غوره ده چې شخصا د ادینبرګ ښار شورا دفتر ته حاضر شی. شورا څلور دفترونه لری چې تاسو کولی شئ د ورلندې کولو لپاره ورشئ .

**Northeast Locality Office**
**101 Niddrie Mains Road,**
**Edinburgh,**
**EH16 4DS**

**Southeast Locality Office**
**40 Captain's Road,**
**Edinburgh,**
**EH17 8QF**

**Northwest Locality Office**
**8 West Pilton Gardens,**
**Edinburgh,**
**EH4 4DP**

**Southwest Locality Office**
**10 Westside Plaza,**
**Edinburgh,**
**EH14 2ST**

دوی همدارنګه یو دفتر لری په ځانګړې توګه د هغو خلکو لپاره چې د پام وړ ملاتړ اړتیاوې لری، لکه جسمی یا ذهنی روغتیا مسئلې، روږدی، د زده کړې ستونزې یا ناوړه چلند تجربه کړی.

**The Access Place**
**181 Newhaven Road,**
**Edinburgh,**
**EH6 4QA**

## څوک کولی شی غوښتنلیک ورکړی؟

څوک کولی شی د بې کوره کسانو مرستې لپاره غوښتنلیک ورکړی:

هر هغه څوک چې له ۱۶ کلونو څخه زیات وی کولی شی په سکاټلنډ کې د بې کوره کسانو مرستې ترلاسه کړی:

دوی د برتانیا یا ایرلنډ تابعیت لری
دوی د استوګنې حیثیت لری
دوی مخکې له مخکې ځای پر ځای شوی حالت لری او ځینې شرایط پوره کوی، لکه کار
هغوی د کډوال حیثیت او یا هم بشری خوندیتوب لری
هغه کسان چې د مهاجرت بیلابیل حالت لری او عامه بودیجې ته لاسرسی لری هم کولی شی د بې کوره کسانو لپاره مرسته ترلاسه کړی

که چیرې په کور کې لویان یا ماشومان وی نو ټولنیز کار هم کولی شی چې د استوګنې ځای ورلندې کړی.

شورا باید د اړتیا په صورت کې یو ژباړن چمتو کړی. که تاسو نشی کولی چې پخپله غوښتنلیک ورلندې کړئ، تاسو کولی شئ د شورا سره د تلیفون یا ایمیل له لارې اړیکه ونیسئ. موږ تاسو ته مشوره درکوو چې که تاسو په کوڅه کې بې کوره یاست او هیله لرئ چې ژر تر ژره موقتی استوګنځی ته لاسرسی ولرئ.

**که تاسو نه شئ کولی چې شخصا غوښتنلیک ورکړئ نو له شورا سره اړیکه ونیسئ: 0131 529 7125** 📞
✉️ **ایمیل: HPHOT.HousingAssistants@edinburgh.gov.uk**

The Welcoming

www.scotland.shelter.org.uk

SHELTER

# د بې کوره کسانو غوښتنلیک پروسه: ادینبرګ

## د بې کوره کسانو بیلابیلو پریکړو

":غیر ارادی بې کوره"
تاسو د بې کوره کسانو خدمتونو لپاره مستحق یاست.
تاسو کولی شئ تر هغه وخته په لنډ مهاله استوګنځی کې پاتې شئ ترڅو چې د شورا لخوا تاسو ته دایمی استوګنځی ورانديږ نه شی. تاسو باید هره اونۍ په کې د دریو مناسبو استوګنځایو بولی وکړئ EdIndex.

":قصداً بې کوره"
تاسو بې کوره یاست، مګر تاسو قصداً داسې کار کړی یا په دې کې پاتې راغلی یاست چې تاسو بې کوره شوی، نو له دې امله تاسو ته دایمی استوګنځی نه درکول کیږی.
تاسو کولی شئ په موقتی استوګنځی کې د مناسب وخت لپاره پاتې شئ تر څو تاسو د اوسیدو لپاره بل ځای پیدا کړئ. د شورا سره خبرې وکړئ ترڅو وګورئ چې آیا هغوی کولی شی تاسو سره د نورو لارو په لټه کې مرسته وکړی
.

":بې کوره نه دی"
تاسو په انګلستان کې یا په بهر کې داسې کور لرئ چې ستاسو لپاره مناسب وی. تاسو ته دایمی استوګنځی نه درکول کیږی او تاسو اړ یاست چې موقتی استوګنځی پریږدئ.

"سیمه ییز اړیکه نشته":
شورا پریکړه کړې ده چې ستاسو د بې کوره کسانو غوښتنلیک د سیمه ییزو چاروکو یوې بلې سیمې ته ولیږدوی چیرته چې تاسو سیمه ییز اړیکه لرئ (د استوګنې له امله ، د نږدې خپلوانو د استوګنې یا کار له امله). شورا دنده لری چې تاسو ته موقتی استوګنځی چمتو کړی تر څو چې بل سیمه ییز چارواکی ستاسو لپاره د بې کوره کسانو دنده ومنله. تاسو کولی شئ په ادینبرګ کې د کار موندلو له لارې سیمه ییز اړیکې رامنځته کړئ. که تاسو کار پیدا کړئ، تاسو کولی شئ د بې کوره کسانو لپاره نوی غوښتنلیک وړاندې کړئ.

## وروسته څه پیښیږی؟

1 . شورا باید ستاسو غوښتنلیک واخلی

که تاسو واياست چې تاسو بې کوره یاست، دا به کافی وی چې شورا درخواست ومنی.

2 . شورا باید تاسو ته موقتی استوګنځی درکړی

دا کیدای شی تر اوو ورځو پورې په هوټل یا بستر او سهارنۍ کې وی، وروسته له هغې دوی باید تاسو ته مناسب استوګنځی درکړی. که تاسو طبی اړتیاوې لرئ، لطفاً شورا ته وواياست ترڅو هغوی دا په پام کې ونیسی.

3 . شورا باید وضعیت شما را بررسی کند و یک تصمیم نامه به شما بدهد

وروسته له هغه چې تاسو د بې کوره کسانو غوښتنلیک ورکړئ، شورا به ستاسو حالت وڅیړی او پریکړه به وکړی چې آیا تاسو د شورا ملاتړ مستحق یاست.

دا لیک به تاسو ته د پریکړې او وروسته څه پیښیږی تشریح کړی. شورا به هڅه وکړی چې په ۲۸ ورځو کې پریکړه وکړی، خو کیدای شی ډیر وخت ونیسی.

The Welcoming

SHELTER